# ما د روغتیا لپاره : له چا سره باید لیدل وشي ؟

## ډاکټر
médecin

## نرس
infirmière

## دايي
sage-femme

## درمل جوړونکی
pharmacienne

## ارواپوهه
psychologue

## ټولنیز کارکوونکی
travailleuse sociale

îledeFrance
prévention | santé | sida

ars
Agence Régionale de Santé
Île-de-France

© **Crips Île-de-France**, 2021, *version pashto*
Organisme associé de la Région Île-de-France
Document réalisé avec le soutien financier de l'ARS Île-de-France

www.lecrips-idf.net

په فرانسه کې، د خپل مذهب، خپل ملیت یا خپلې ظاهري بڼې په پام کې نیولو پرته تاسو د خپل ځان ساتنه کولی شئ.

دلته هغه خلک دي چې کولی شي ستاسو د روغتیا پاملرنې کې له تاسو سره مرسته وکړي. دا ټول طبي محرمیت ته درناوی لري او په ځینې ځایونو کې ورته وړیا لاسرسي کیدی شي. که تاسو په فرانسوي ژبه نه پوهیږئ، نو تاسو کولی شئ د یو ترجمان غوښتنه وکړئ.

## ډاکټر

که تاسو ناروغ یاست یا که تاسو غواړئ د خپلې روغتیا په اړه وغږیږئ، نو تاسو کولی شئ د "عمومي ډاکټر" سره مشوره وکړئ. هغه تاسو ته د دارو درملو، د وینې ټیسټ، او ایکس رې کولو وړاندیز کولی شي... او د اړتیا په صورت کې، هغه تاسو یو "متخصص ډاکټر" ته هم راجع کولی شي څوک چې د انسان د بدن د یوې برخې درملنه کوي.

## نرس

تاسو د یو نرس یا نرسې سره په روغتون کې، په یو روغتیایی مرکز کې، او یا په یو ایسوسي ایشن کې لیدل کتل کولی شئ  او حتی هغه کولی شي ستاسو کور ته هم راشي. هغه کولی شي ستاسو د روغتیا پورې اړوند ټولو سوالونو ته ځواب ووایي او ستاسو درملنه وکړي. د مثال په توګه : د درملنې کولو په اړه وضاحت کول، د ټیسټ لپاره د وینې اخیستل...

## دایي

دایي هغه ښځه ده چې د ښځو روغتیایي ستونزې هواروي. که تاسو ماشوم غواړئ یا نه، هغه ستاسو د ښځینه ناروغیو تعقیب کوي او ستاسو د حمل د مخنیوي لپاره تاسو ته مشورې درکوي. هغه کولی شي د ماشوم له زیږون وړاندې، پر محال، او یا وروسته، ستاسو سره همکاري وکړي. د مثال په توګه : مشورې، د زیږون لپاره چمتووالی، د ماشوم وزن...

## درمل جوړونکی

دا هغه کس دی چې په درملتون کې کار کوي : دا هغه ځای دی چیرې چې تاسو کولی شئ د خپلې روغتیا لپاره درمل او مشورې ومومئ. که تاسو روغتیایي بیمه لرئ، نو تاسو کولی شئ خپل درمل د ښار یو درملتون څخه ترلاسه کړئ. که نه، تاسو کولی شئ د یو روغتون PASS ته لاړ شئ. (روغتیایی پاملرنې ته د لاسرسي ځای = کوچنې).

## ارواپوهه

ارواپوهه ستاسو معاینه کوي، تاسو ته غوږ ایږدي او ستاسو قضاوت نه کوي. هغه به تاسو ته ونه وایي چې څه وکړي مګر ستاسو خبرو ته به غوږ نیسي په ډیر درناوي سره. که چیرې تاسو د خپلو احساساتو په اړه خبرو کولو ته اړتیا لرئ یا د هغه ستونزو په اړه چې تاسو ورسره مخ یاست یا ورسره مخ کیدی شئ، نو تاسو کولی شئ د دغه ارواپوهه سره وغږیږئ.

## ټولنیز کارکوونکی

ټولنیز کارکوونکی د هغه خلکو سره مرسته کوي څوک چې له ستونزو سره مخ وي. هغه کولی شي له تاسو سره او ستاسو کورنۍ سره په ځینې کړنلارو او مرحلو کې مرسته وکړي : د خواړو په اړه لارښونه، روغتیایي بیمې ته لاسرسی... تاسو کولی شئ چې د ټولنیز کارکوونکی سره په ګڼ شمیر ځایونو کې ملاقات وکړئ. د مثال په توګه : په روغتون کې، په یو ټولنه یا ایسوسي ایشن کې، د ښاروال په دفتر کې...

## چیرته موندل کیږي ؟

تاسو په ګڼ شمیر ځایونو کې دوي موندل شئ.

په www.soliguide.fr ویب پاڼه کې تاسو داسې ډیری ځایونه موندل شئ چې ستاسو د روغتیا لپاره ګټور دي. دغه ځایونه د "درملنې کول" برخې کې موقعیت لري، او وړیا دي.